هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۰) ماه رمضان المبارک ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه حوت ۱۴۰۴ هـ ش.


**په مدرسو او ښوونځيو کې د خپلو ماشومانو په شموليت سره خپل مسؤليت اداء او د هغوی راتلونکې روښانه کړئ.**

# په ښوونيزو مراکزو کې د نويو زده کوونکو د جذب او نوم ليکنې په اړه

## د پوهنې وزارت اعلاميه

بسم‌الله الرحمن الرحيم
اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

درنو هېوادوالو! راځئ چې نوی ښوونيز کال د زده کړې او ودې په فرصت بدل کړو ترڅو مو د نن ورځې زده کړه د سبا ورځې د يو روښانه راتلونکي ضامن شي. علم او پوهه د يوې رڼا په څېر د انسان زړه او دماغ روښانه کوي، له بې لارۍ او مايوسۍ څخه يې ژغوري او خپلو موخو ته يې رسوي. له بلې خوا ناپوهي داسې تياره ده چې انسان له وېرې، خطر او خوارۍ سره مخامخ کوي. الله جل جلاله په قرآن کريم کې د پوه او ناپوه د توپير په هکله داسې فرمايلي: (قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ ) (( سورة الزمر: ۹ آية))

ژباړه: وواية برابر دي آيا هغه کسان چې پوهېږي، او هغه کسان چې نه پوهېږي.
همدارنګه الله جل جلاله د علم ارزښت په اړه د قران کريم د بقرې سورې په ۳۱ آيت کې فرمايلي دي:
وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ) (( سورة البقره:۳۱ آية))

ژباړه: او وښوول الله جل جلاله آدم عليه السلام ته نومونه د ټولو شيانو بيايې وړاندې کړل دا ټول شيان ملائکو ته بيائې وويل وښاياست ماته نومونه د دې که چېرته تاسې صادقان ياست.

همدا شان زموږ ګران پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم هم د علم ارزښت په اړه فرمايلي چې د انسان تر مړينې وروسته هم ورته د هغه د ګټور علم اجر او ثواب ورسيږي.

ژباړه: کله چې انسان مړ شي د درې څيزونو پرته د عمل ثواب يې قطع کېږي؛ جاريه صدقه، هغه علم چې ګټه ترې واخيستل شي او صالح اولاد چې دعا ورته کوي. (مشکوة االمصابيح: ص۳۲)

پورته آيتونو او حديث شريف ته په کتو سره دې پايلې ته رسېږو چې علم او پوهه د خپل ځان او خالق جل جلاله د پېژندنې وسيله ده، دا هغه مهال شونې ده چې له علم سره عمل هم مل وي، د علم او پوهې تر لاسه کولو وروسته موږ ته ښايي چې د خپلو زده کړو په مټ د ټولنې د هوساينې، سوکالۍ او د خپلو هېوادوالو او ملک د نيکمرغۍ لپاره کار او هلې ځلې وکړو.

قدرمنو والدينو! په نوي ښوونيز کال کې په ګډه د يوې لويې موخې د تر لاسه کولو په لور ګام پورته کوو تر څو د ځان او راتلونکو نسلونو لپاره يو پرمختللی او په ځان بسيا ملک په ميراث پرېږدو. چې دې موخې ته د رسېدو لپاره د علم او پوهې د زده کړې پرته رسېدل ناشونې دي، ځکه د علم او پوهې په ترلاسه کولو سره د انسان په وجود کې بې شمېره فضيلتونه وده او عروج کوي لکه: ښه سلوک، له يو بل سره مرسته، عدالت، مرحمت، امانت پالنه، رښتينولي، صبر او زغم ، وفا، حيا، قوت، عاجزي، سخا، شجاعت او غښتلتيا چې په پايله کې د نېکمرغه ټولنې د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي.

کله چې ياد اوچت خويونه د علم او پوهې د زده کړې په ځانګړې توګه د اسلامي زده کړې له برکته د انسان په وجود کې ځای ونيسي نو ښکاره خبره ده چې ظلم، جنايت، خرافات او نور ناوړه کارونه او دودونه به په ټولنه کې له منځه ځي، د باور فضاء رامنځ ته کېږي، ټول خلک په سوله او ورورګلوي کې ژوند کوي او په پايله کې د ټولنې د ودې او پرمختګ زمينه برابرېږي.

درنو هېوادوالو!

د ملک په کچه په مدرسو او ښوونځيو کې د نويو زده کوونکو د جذب او نوم ليکنې لړۍ روانه ده، بېړه وکړئ خپل ماشومان په يادو ښوونيزو مراکزو کې شامل او د هغوی روښانه راتلونکې تضمين کړئ.

والسلام

**الحاج مولوي حبيب الله آغا**

**د پوهنې وزير**

## فراهم شدن زمینه آموزش رایگان برای هزاران شاگرد مکاتب در ولایت پکتیکا



مسئولان در ریاست معارف ولایت پکتیکا میگویند که با همکاری کارمندان بخش انکشاف مسلکی، تاجران و باشندگان محل، در ۸ ولسوالی این ولایت برای ۴۱۱۵ تن از شاگردان مکاتب در ایام رخصتی‌های زمستانی، زمینه آموزش رایگان فراهم شده است.

مسئولان در ریاست معارف می گویند: این برنامه به هدف تقویت سطح علمی شاگردان، استفاده مؤثر از تعطیلات زمستانی و جبران کاستی‌های درسی راه‌اندازی شده و در حال حاضر در ولسوالی‌های مربوطه جریان دارد.

محترم مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف ولایت پکتیکا این اقدام را گامی مهم در راستای ارتقای کیفیت آموزشی دانسته و از همکاری و سهم‌گیری فعال کارمندان بخش انکشاف مسلکی، تاجران و باشنده گان محل ابراز قدردانی کرد. وی تأکید نمود که ریاست معارف متعهد به فراهم‌سازی فرصت‌های بیشتر آموزشی برای شاگردان در سراسر این ولایت می‌باشد.

## په هرات کې د نږدې ۷ مېليونه افغانيو په لګښت د يو شمېر ښوونيزو پروژو چارې بشپړې شوې

د افغاني سرې مياشتې ټولنې په مالي مرسته د واش پروژو چارې چې څه موده وړاندې د هرات ولايت د زاول ولسوالی اړوند په ده ميرزا قاسم او ده افغان ليسو کې پيل شوې وې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

د هرات ولايت د پوهنې رياست مسئولين وايې چې په يادو ودانيزو پروژو کې سپتيک څاه ګانو جوړول، د لمريزې برېښنا سيستم نصبول، د څښاک پاکو اوبو څاه ګانو کيندل او د تشنابونو جوړول شامل دي چې د افغاني سرې مياشتې ټولنې په مالي مرسته د نږدې ۷ مېليونه افغانيو په لګښت بشپړې شوې.

د هرات ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي رحمت‌الله جابر د دغو پروژو له بشپړېدو څخه د خوښۍ څرګندولو په ترڅ کې وويل چې د يادو بنسټيزو پروګرامونو په پلي کېدو سره به د دغو ښوونځيو اساسي ستونزې هوارې او زده‌کوونکو ته به خوندي او مناسب تعليمي چاپېريال زمينه برابره شي.

نوموړي د افغاني سرې مياشتې ټولنې له مرستې مننه وکړه او د هرات ولايت په مرکز او ولسواليو کې يې د تعليمي بنسټونو د ښه‌والي او پراختيا لپاره د نورو همکارو بنسټونو د مرستو پر جلبولو ټينګار وکړ.

## سنگ تهداب ساخت یک باب مکتب در ولایت دایکندی گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر جدید مکتب ابتدائیه فاطمیه در ولسوالی کیتی ولایت دایکندی به هزینه ی بیش از ۱ میلیون افغانی از مساعدت های مردمی با حضور مسئولین معارف آن ولسوالی در قطعه زمینی به مساحت ۲ هزار متر مربع گذاشته شد.

محترم الحاج مولوی شیر محمد صدیقی رئیس معارف ولایت یاد شده با ابراز امتنان از روحیه همکاری مردم معارف دوست آن ولسوالی گفت؛ قبلا این مکتب مکان مناسب برای آموزش نداشت و خوشبختانه حالا با اراده و همکاری مردم معارف پرور، جهت رشد تعلیم وتربیه اولاد وطن این تعمیر اعمار می شود که مشکل تقریبا صد تن شاگرد را از لحاظ مکان تعلیمی مرفوع می سازد.

## د لغمان ولايت په ۳۰ بابه ښوونځيو کې د لمريزې برېښنا سيستمونه نصب شول



د لغمان ولايت په ۳۰ بابه ښوونځيو کې د يو همکار بنسټ په مالي ملاتړ د۱ مېليون افغانيو په لګښت د لمريزې برېښنا شبکې فعالې شوې او د يوې غونډې په ترڅ کې چې د ياد ولايت پوهنې رياست مسؤلينو هم پکې ګډون درلود ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

د ياد ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي شاه جهان ساجد وويل: د برېښنا سيستمونه د تعليمي بنسټونو د پرمختګ لپاره حياتي ارزښت لري؛ ځکه د برېښنا په شتون کې ښوونځي په انټرنېټ، ډيجيټلي آسانتياوو او آزمايښتونونو سمبال او فعالېږي. چې دا به د زده کوونکو د علمي پوهې د کچې لوړولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.

## در این شماره


مخ ۲ — د نوي ښوونيز کال لپاره خپل ماشومان مدرسو او ښوونځيو ته د تګ لپاره تشويق کړئ!

صفحه ۲ — برگزاری سیمینار برای معلمان مضامین کیمیا و بیولوژی مکاتب در ولایت نیمروز

مخ ۳ — نبوي ملغلرې

سرمقاله

## دنوي ښوونيز کال لپاره خپل ماشومان مدرسو او ښوونځيو ته د تګ لپاره تشويق کړئ!

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

د ژمي رخصتی پای ته رسېږي او د نوي ښوونيز کال پيل ته د ګوتو په شمېر ورځې پاتې دي. دا هغه وخت دی چې والدين بايد خپل ماشومان مدرسو او ښوونځيو ته د تګ لپاره سر له همدا اوسه تشويق او چمتو کړي. کله چې د مدرسو او ښوونځيو د پيل ورځې نږدې شي ماشومان بايد د ذهني او رواني پلوه چمتو وي او هغوی د والدينو لخوا مدرسو او ښوونځيو ته د تګ لپاره په ښه توګه وهڅول شي.

والدين بايد له همدا اوس خپل ماشومانو ته د مدرسو او ښوونځيو د ارزښت په اړه خبرې وکړي داسې چې ماشومان له مدرسې او ښوونځي سره مينه پيدا کړي او يادو ښوونيزو مراکزو تګ ته يې په زړه کې تلوسه پيدا شي.

په مدرسو او ښوونځيو کې د ماشومانو شاملول د هغوی په مخ د يوې نوې نړۍ دروازه پرانيستل کېږي چې په هغې کې نه يوازې د علم بلکې د ټولنيزو اړيکو، شخصيت جوړونې او د هغوی د پوهې او ذهني ودې لپاره هم لوی فرصت دی. والدين بايد په دې ټکي پوه شي چې مدرسې او ښوونځي د هغوی د ماشومانو د ذهني ودې او په راتلونکي کې د يوه عالم او متخصص د جوړېدو بنسټونه دي.

والدين بايد خپل ماشوم ته د مدرسې او ښوونځي په اړه مثبتې او تشويقي خبرې وکړي او هغوی ته ډاډ ورکړي چې مدرسې او ښوونځي ته تګ په ژوند کې د پرمختګ لپاره مهم دی. که چېرې ماشومان مدرسو او ښوونځيو ته د تګ لپاره انديښنې لري يا د ځينو لاملونو له امله يادو ښوونيزو مراکزو ته د تګ لپاه زړه نازړه وي د والدينو دنده ده چې ماشوم ته د مدرسې او ښوونځي په اړه ښه احساس وښيي. دا بهير د مدرسو او ښوونځي پيل ته د مثبت ذهنيت ورکولو لپاره خورا اړين دی. د مدرسې او ښوونځي لومړۍ ورځ د ماشوم لپاره ځينې احساسات راوړي، لکه ويره يا خوشحالي. نو والدينو ته ښايي د ماشوم سره خبرې وکړي او د دوی د احساساتو سره سم يې لارښوونه وکړي، تر څو ماشوم ته پوهه ورکړي چې هر څه په مدرسه او ښوونځي کې ښه او ګټور دي. .

د مدرسو او ښوونځيو لپاره د چمتووالي يوه بله مهمه برخه د مدرسو او ښوونځيو اړوند درسي موادو چمتو کول دي. نه يوازې لباس او کتابونه، بلکه د ماشومانو لپاره ټولنيزې او ذهني تياری هم اړينه ده. د مدرسې او ښوونځي له پيل مخکې، والدين بايد ماشومانو ته د هغوی د ورځني ژوند ترتيب، د مدرسې او ښوونځي ساعتونه او د هغوی د کارونو په اړه خبرې وکړي. دا به د ماشوم ذهن آرام کړي او په دې به پوه شي چې په مدرسه او ښوونځي کې څه ډول کړنې ترسره کړي. دا چمتووالی د ماشوم ذهن ته سکون ورکوي او هغه به د مدرسې او ښوونځي په پيل سره ځان چمتو احساس کړي.

والدين بايد په دې باندې پوه شي چې په مدرسو او ښوونځيو کې د ماشومانو شاملول د دوی په ژوند کې يو مهم ګام دی چې د ماشوم د راتلونکي جوړونې لپاره ارزښتمن دی. د علم ارزښت بايد په هر پړاو کې ماشومانو ته وروښودل شي. او هغوی ته وويل شي چې علم نه يوازې د فرد د پرمختګ لپاره مهم دی، بلکې د ټولنې د پرمختګ لپاره هم حياتي دی.

**قدرمنو والدينو!** راځئ چې په مدرسو او ښوونځيو کې د خپلو ماشومانو په شاملولو سره د هغوی او د هېواد پرمختګ ته لار هواره کړو، او په ټول توان سره د علم او معارف په وده او پرمختګ کې خپله فعاله ونده ادا کړو.

## برگزاری سیمینار برای معلمان مضامین کیمیا و بیولوژی در ولایت نیمروز



سیمینار میتودیکی ۶ روزه برای معلمان آزمایشگاه مضامین کیمیا و بیولوژی در لیسه فرخی شهر زرنج، مرکز ولایت نیمروز با حضور مسئولین معارف و اعضای علمی مرکز ساینس آن ولایت برگزار شد.

مسئولین معارف هدف از برگزاری این سیمینار را بلند بردن اگاهی مسلکی معلمان و آشنایی آنان با وسایل و مواد آزمایشگاه و اجرای تجارب عملی مضامین کیمیا و بیولوژی مکاتب مرکز شهر عنوان کردند.

در این سیمینار ۳۵ تن از معلمین مضامین کیمیا و بیولوژی مکاتب مرکز ولایت یاد شده اشتراک کرده که از سوی اعضای علمی مدیریت عمومی مرکز ساینس ریاست معارف آن ولایت آموزش داده می شوند.

## د بادغيس ولايت اوسېدونکو له لوري څه کم ۱۲ جريبه ځمکه پوهنې رياست ته په واک کې ورکړل شوه

د بادغيس ولايت د قادس، دره‌بوم، تګاب عالم، جوند ولسواليو او د دغه ولايت د مرکز اړوند علم دوسته اوسېدونکو له لوري ۱۱ جريبه او ۷۷۵ متره مربع ځمکه، د تعليمي مرکزونو جوړولو په موخه د ياد ولايت پوهنې رياست ته په واک کې ورکړه.

د ياد ولايت پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي محب‌الله احسان وويل: دغه ځمکه چې ارزښت يې ۳ مېليونه، ۵۳۲ زره او ۵۰۰ افغانيو ته رسېږي، د پوهنې وزارت له لوري به په يادو ولسواليو کې د مدارسو او ښوونځيو جوړولو لپاره ترې ګټه واخيستل شي.

د پوهنې وزارت مشرتابه د هېواد د علم‌دوسته هېوادوالو ، په ځانګړي توګه د بادغيس ولايت د اوسېدونکو له لوري پوهنې ته د ځمکو د وقف کولو له امله قدرداني کوي.



## د سويل لوېديځ زون ولايتونو ښوونکو لپاره ۳ ورځنی روزنيز سيمينار جوړ شو



په کندهار ولايت کې د سويل لويديځ زون د ولايتونو شاوخوا ۲۰۰ تنو ښوونکو لپاره درې ورځنی روزنيز سيمينار ترسره شو.

د ياد ولايت پوهنې رياست د مسئولينو په وينا؛ د دې سيمينار موخه د ښوونکو مسلکي وړتياوو لوړول، له معياري تدريسي مېتودونو سره د هغوی بلدتيا او د تدريسي اصولو په اړه د پوهاوي زياتول و.

د هغوی په خبره، د ورته روزنيزو پروګرامونو په ترسره کېدو سره به د تدريس کيفيت لوړ او د زده‌کوونکو پر علمي کچې به مثبت اغېز ولري.

## په پکتيا ولايت کې له ۳ بابه ښوونځيو سره مالي مرسته وشوه

د پکتيا ولايت په ځمکني او زرمت ولسواليو کې د خلکو او قومي متنفذينو په مالي مرسته، د ۳ بابه ښوونځيو لپاره د ۶۶۸ زره ۴۵۰ افغانيو په ټوليز لګښت د اوبو رسولو سيستمونه، سولري برېښنا او يو شمېر نور اړين سهولتونه برابر شوي دي.

د ياد ولايت پوهنې رئيس محترم مولوي عبدالقيوم فاروقی، له مرسته کوونکو هېوادوالو څخه د مننې ترڅنګ، له نورو وطنوالو هم غوښتنه وکړه چې له مدارسو او ښوونځيو سره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

## وقف ٦ جریب زمین از سوی باشنده گان محل به ریاست معارف هرات

باشنده گان معارف دوست ولسوالی‌های غوریان و پشتون زرغون ولایت هرات حدود ۶ جریب زمین را به ارزش یک میلیون و ۱۵۰ هزار افغانی، به ریاست معارف این ولایت اهدا کردند.

محترم مولوی رحمت‌الله جابر، رئیس معارف ولایت هرات گفت؛ این زمین‌ها که به‌منظور ساخت مکاتب در این ولسوالی‌ها اهدا شده است، وزارت معارف متعهد است تا در حد امکانات مالی و بودجوی برای ساخت مکاتب مذکور اقدام نماید. گفتنی است که باشنده‌گان معارف‌دوست این ولایت از آغاز سال ۱۴۰۴ تا اکنون ده‌ها جریب زمین را به هدف اعمار مدارس و مکاتب در این ولایت، به معارف اهدا

## وقف ۷ جریب زمین برای ساخت نهاد های تعلیمی در ولایت زابل



شماری از جوانان و باشندگان معارف دوست ولسوالی سیوری ولایت زابل مجموعاً ۷ جریب زمین را برای ساخت تعمیر ۳ باب نهاد تعلیمی و آموزشی مختلف در آن ولسوالی وقف کردند.

به اساس معلومات مسئولان در ریاست معارف ولایت زابل ۳ جریب زمین برای ساخت یک باب مکتب ابتدائیه در قریه گزک به همین ترتیب ۳ جریب زمین به ارزش مجموعی ۱۵۰ هزار افغان برای ساخت تعمیر مکتب ابتدائیه قریه دعویگر و ۱ جریب زمین به ارزش ۵۰ هزار افغانی برای ساخت تعمیر مدرسه حنفیهٔ در قریه اورگچ ولسوالی سیوری وقف و اسناد آن به ریاست معارف ولایت زابل تسلیم داده شد.

باشنده گان این ولایت ضمن قدردانی از برنامه های وزارت معارف برای رشد تعلیم و تربیه در ملک پشتبانی شان را از برنامه های معارف اعلام نمودند.

وزارت معارف از حمایت های مردم علم دوست ولایت زابل از نظام تعلیمی ملک اظهار سپاسگزاری می نماید.

## لنډ خبرونه

### هلمند

په هلمند ولایت کې له ۷۰ تنو هغو افغان زده‌کوونکو څخه چې تازه له کډوالۍ راستانه شوي، د تعلیمي سویې د تثبیت ازموینه واخیستل شوه.

د پوهنې مسئولینو وویل، له علمي ارزونې وروسته به دغه زده‌کوونکي د خپلو تعلیمي ورتیاوو له مخې اړوندو ټولګیو کې شامل شي.

### غزني

په غزني ولایت کې، د قرهباغ ولسوالۍ اړوند د «شهید عبدالرحمن» دیني مدرسې د ودانۍ جوړولو لپاره یو جریب ځمکه د سیمې د یوه سوداګر محترم حاجي جیلاني له لوري وقف شوې ده، چې ارزښت یې له یو میلیون افغانیو څخه زیات اټکل شوی.

### لوګر

د یو مرستندویه بنسټ له خوا په لوګر ولایت کې د ۲۹۰ بابه ښوونځیو ښوونکو او زده‌کوونکو لپاره، د حفظ الصحې د مراعاتولو او د ناروغیو او انتاناتو د مخنیوي په موخه ۴۱ زره ۳۲۸ کلچې صابون مرسته ترسره شوه.

### لغمان

سیستم برق آفتابی برای لیسه مشه‌خیل ولسوالی قرغه‌یی ولایت لغمان به هزینه ۶۳ هزار و ۳۶۰ افغانی از سوی یک تن از اهالی معارف دوست آن ولسوالی نصب و فعال شد.

### هرات

ریاست معارف ولایت هرات به همکاری یکی از نهاد های علمی خصوصی در مرکز آن ولایت، ورکشاپ زیر نام « بیداری جوانان مسلمان در برابر تهاجم فکری و فرهنگی غرب » برای بیش از ۱۰۰ تن شاگردان یک مرکز آموزشی برگزار کرد.

این ورکشاپ به هدف بلند بردن سطح آگاهی و نقش جوانان مسلمان در پاسداری از ارزش‌های دینی، راهکارهای علمی مقابله با تهاجم فکری و فرهنگی غرب و تقویت روحیه مسئولیت‌پذیری برای شاگردان راه اندازی شده بود.

### دایکندی

سیمینار ۳ روزه آموزشی « قابلیت های ارزیابی سوادآموزی» برای مسئولان سوادآموزی در مورد موضوعاتی چون روند قابلیت و نحوه ارزیابی سوادآموزی برای بزرگ سالان و کسانی که در مناطق دوردست از سواد محروم مانده در سطح این ولایت برگزار شد.

### غور

سنگ تهداب یک باب ساختمان برای آمریت معارف ولسوالی تیوره در ولایت غور به حضور باشنده ها محل گذاشته شد.

مسئولان معارف گفته اند که این ساختمان به هزینه بیش از ۶۰۰ هزار افغانی ساخته خواهد شد که با تکمیل آن مشکلات اداری برطرف شده و ارائه خدمات آموزشی دقت خواهد شد.

### نورستان

د نورستان ولایت مرکز پارون ښار اړوند د چتراس سیمې معارف‌دوسته اوسېدونکو د یو منځني ښوونځي د ودانۍ جوړولو په موخه یو جریب ځمکه پوهنې ریاست ته وقف کړه.

د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي تاج محمد مطمئن د خلکو له همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې ویل: د یاد ښوونځي لپاره د نوي ودانۍ په جوړېدو سره به د زده‌کوونکو او د ښوونځي کارکوونکو د خوندي تعلیمي چاپېریال نشتوالي ستونزه هواره شي.

# نبوي ملغلرې

**د روژه ماتي ورکولو ثواب**

عن زيد بن خالد الجهني قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فطر صائما كان له مثل أجره غير انه لا ينقص من أجر الصائم شئ. (ترمذي ج۲ ص ۱۶۰ رقم ۸۰۷)

ژباړه: چا چې روژه نیونکي ته روژه مات ورکړ، دده اجر او ثواب به د روژه نیونکي د ثواب په اندازه وي، بې له دې چې د روژه نیونکي د اجر څخه څه کم شي.

***

**د نېکو اخلاقو مقام**

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « مَا مِنْ شَيْءٍ يُوضَعُ فِي الْمِيزَانِ أَثْقَلُ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ وَإِنَّ صَاحِبَ حُسْنِ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ بِهِ دَرَجَةَ صَاحِبِ الصَّوْمِ وَالصَّلاَةِ ». (ترمذي ج ۳ ص ۵۳۶ رقم ۲۰۰۳)

ژباړه: د ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریمﷺ وفرمایل: داسې شی نشته چې د حساب په تله کې اېښودل کېږي، چې د نېکواخلاقو څخه د دروند وي. او بې شکه چې د نېکو اخلاقو څښتن ته د لمونځ کوونکي او روژاتي درجې رسېږي.

***

**د دعا اهمیت په الرخاء (آساني)**

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ:قَالَ رَسُولُ اللَّهِ : «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُسْتَجَابَ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ وَالْكَرْبِ، فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ». المستدرك على الصحيحين ج ۱ ص ۵۴۴ رقم ۲۰۰۴)**

**ژباړه :**

**هر څوک چې غواړي چې الله تعالی د هغه دعا د مشکلاتو په وخت کې قبول کړي، نو په هغه وخت کې چې د ژوند حالت ښه او آسان وي، زیات دعا دې وکړي.**

***

**مسلمان باید عاری از این سه صفات باشد**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللَّعَّانِ وَلاَ الْفَاحِشِ وَلاَ الْبَذِيءِ. (المستدرك على الصحيحين ج ۱ ص ۱۲ رقم ۲۹)

ترجمه: عبدالله رضی الله تعالی عنه از رسول اکرم صلی الله علیه وسلم روایت میکند که فرمود: مسلمان:باید طعنه گوینده، لعنت گوینده، فحش گوینده و بد گوینده نباشد.

## پلار ته خطاب

**لیکنه: عبدالکریم رحیمي / تعلیم الاسلام ویب پاڼه**

دا یو حقیقت دی، چې انسان بې هدفه نه دی پیدا شوی، په اسلامي لړلید کې هر انسان ځان ته مسئولیتونه او صلاحیتونه (حقوق او وجایب) لري؛ هغه که امیر وي، که امام وي، که پلار وي او که بل مشر وي؛ څکه د عبد الله بن عمررضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستاسې څخه هر کس د خپلو تر لاس لاندې کسانو مسئول دی؛ یعنی دا د هر چا مسئولیت دی، چې د تر لاس لاندې کسانو روزنه او سالمه تربیه به کوي، که یې خپل مسئولیت ترسره کړ نو د نېکۍ بدله به ومومي او که یې خپله دنده او مسئولیت په سمه توګه ادا نه کړ، بدله به یې خرابه وي.

نو اې پلاره! هغه نېک زوی، چې دُعا در ته کوي او خلک دې د هغه په واسطه په نېکۍ یادوي، تر هغه زوی ډېر غوره نه دی چې تا هېروي او په خپلو بدو اعمالو ستاسره بدي کوي؟ هغه نېک زوی، چې په دنیا کې دې د لاس لکړه او په آخرت کې دې د سر تاج وي بهتره نه دی؟ تر هغه زوی چې په دنیا کې دې د اوږو بار وي او په آخرت کې یې د بد لارۍ مسئول ته شي؟

اې پلاره! ستا زوی ستا د وجود یوه برخه ده، نو آیا غواړې، چې وجود او ځیګر دې په دردونو اخته شي؟

که نه غواړې نو خپل مسئولیت درک کړه، وظیفه دې په صحیح ډول سرته ورسوه، د خپل ژوند د هرې ورځې یوه برخه د خپل زوی د روزنې لپاره ځانګړې کړه. لکه څنګه چې خپل زوی د خطرناکې ناروغۍ څخه ساتې؛ همداسې دې زوی د بدو ملګرو له ملګرتیا څخه وژغوره. له کوچنیوالي څخه یې خارنه کوه که نه نو ناروغي به یې ډېره شي او بیا به یې درملنه ګرانه وي.

د زوی د روزنې په وخت کې د زور او وهلو څخه کار مه اخله څکه د هغه د سرکشۍ لامل کېږي او د هغه په رټلو کې زیاتې او افراط کول هغه ستا څخه لېرې کوي. هغه ته ناز ورکول کمزورتیا ور زده کول دي او د هغه په مینه کې افراط کول تا د هغه څخه لېرې کوي. زوی د آس د بچي په څېر دی که د هغه د خوښې سره سم هر څه ورکړل شي سرکښي کوي، تر داسې اندازې چې اداره کول یې ګرانېږي، او که د هغه د خوښې د ټولو شیانو څخه منع شي د داړونکي حیوان په څېر کېږي، چې د خپل شا و خوا د هر څه څخه کرکه کوي، څکه نو په ورکړه کې حاکم اوسه. او تر حد ډېره مینه مه ورکوه څکه ستا او د هغه د نېکمرغۍ لپاره مضر دي. د اولادونو په روزنه کې د وهلو څخه ځان وساته مګر هغه وخت چې وعظ او نصیحت ګټور وا قع نه شي، خو پام دې وي، چې ستا وهل باید د

هغه د روزنې په خاطر وي او کله چې سزا ورکوې داسې یې مه وهه چې بدن ته یې زیان ورسېږي. هغه باید په دې خبره پوه وي، چې سره د دې چې وهې یې خو مینه هم ورسره لرې. تر کومه چې امکان لري د هغه د وهلو څخه ځان وساته؛ څکه دا چې ستا څخه د ویرېږي او مینه درسره وکړي تر دې غوره دي، چې در څخه وویرېږي او کرکه در څخه وکړي، د خپل زوی د روزنې پر مهال لومړی د تشویق، بیا د نصیحت، بیا د خبر داری یا اخطار، بیا د رټنې او په وروستي ګام کې د عادي سزا څخه کار واخله او په آخر کې اې پلاره! د خپل اولاد د لباس، خوړو او نفقې د برابرولو تر څنګ هغه د علم په خوشبویۍ خوشبویه کړه، د مغوی دیني پوهې ته ځانګړې پاملرنه وکړه او د هغه پلرونو په څېر مه کېږه، چې پر خپل زوی یې د سهار د خواږه خوب څخه را کښېنول نه لوریږي، خو د دوزخ اور یې ور باندې لورېږي او د هغه پلرونو په شان هم مه کېږه چې که یې اولاد هغه وظیفې ته نه وي تللی چې زیاته تنخواه ورکوي نو ژر تر ژره یې پوښتنه کوي او علت یې پوښتي، چې ولې نه یې تللی؟ په پایله کې ډېر ورته په غصه کېږې؛ خو که کوم منکر کار وکړي او د الله جل جلاله او یا د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم کوم حکم ترک کړي ممانعت یې نه کوي او نه هم غصه ورته کوي.

## کتاب

ای رفیق روز تنهایی کتاب
پر ز رمز و راز دانایی کتاب
همنشینت را معطر میکنی
دانشش هر روز افزایی کتاب
میدهی تسکین درد جهل را
تو نوید خوب فردایی کتاب
جاده ظلمت روشن میکنی
در مسیر جهل روشنایی کتاب
زیب و زینت میدهی بر خانه ها
منظر زیبا به هر جایی کتاب
یوسفان افتاده اندر چاه ظلم
مشعل روشن در چاهی کتاب
هم نشین خوب دایم با تو است
با ادیبان یار و همرایی کتاب
از نبودت جهل عالم گیر شود
لطفی از الطاف یکتایی کتاب

**احمد فرید رحیمی**

## سخنان ارزشمند

۱- علم، تنها ثروتی است که هرچه بیشتر تقسیم کنی، بیشتر می‌شود.
این جمله یادآور اینست که، هر دانشی را که با دیگران شریک سازی، نه تنها به دیگران کمک می‌کنی بلکه خودت نیز رشد می‌کنی.

۲- زنده گی مانند کتابچه یادداشت است: به یاد داشته باشید که زندگی پر از تجربه‌هاست. هر روز، فرصتی برای نوشتن صفحات جدید است.

۳- اگر نمی‌خواهید تغییر کنید، همیشه در جایی که هستید خواهید ماند.
تغییر، کلید پیشرفت است. اگر می‌خواهید به جایی برسید که هیچ‌گاه نبوده‌اید، باید بیشتر بیاموزید و برای رسیدن به اهداف بزرگ زنده گی تان تلاش کنید.

۵- موفقیت، حاصل تلاش است نه شانس.
آنچه شما را موفق می‌کند، پشتکار، صبر و کار سخت است، نه اتفاقات تصادفی.

۶- هر شکست یک درس است، نه پایان راه.
از شکست‌ها نترس؛ آن‌ها بهترین معلمان زندگی هستند. هر شکست، گامی به سوی موفقیت است.

۷- وقت، بزرگترین سرمایه‌ای است. از آن به درستی استفاده کن.
زمان را هدر ندهید. هر لحظه فرصتی است که هرگز به عقب برنمی‌گردد.

۸- خودت را بشناس، زیرا اولین قدم به سوی موفقیت، شناختن خود است
برای رسیدن به اهداف بزرگ، ابتدا باید بدانیم که چه کسی هستیم و چه چیزی می‌خواهیم و برای رسیدن به اهداف ما از کدام راه ها باید عبور کنیم.

# Marif
Weekly

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 320 /2026



کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفرانی»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا: محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر: ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکي شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲


# د پوهنې وزارت د خدماتو، بهرنیو اړیکو او کابل ښار نوي رئیسان معرفي شول



د پوهنې وزارت په وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام په منظورۍ، د کیفت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق له لوري، د یاد وزارت د خدماتو ریاست لپاره نوی رئیس محترم مولوي جنتګل عزیز، د بهرنیو اړیکو لپاره نوی رئیس محترم مفتي محمد حسن حقاني او د کابل ښار پوهنې نوی رئیس محترم مولوي حسیب الله صاحبزاده د مرکزي څانګو یو شمېر رئیسانو او کارکوونکو په حضور کې معرفي او په کار یې پیل وکړ.

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین په ادارو کې تقرر او بدلون یو اصل وګڼه او ویې ویل چې دا ډول اقدامات په اداري څانګو کې د کارونو لا ښه والي په موخه پلي کېږي.

نوموړي د خپلو خبرو په دوام وویل: په اسلامي نظام کې دندې یو عظیم مسئولیت دی. هغه زیاته کړه، په ورځنیو چارو کې د الله تعالی رضا په نظر کې نیول او د مظلوم ملت خدمت کول ضروري دي چې موږ باید په دې برخه کې خپلې دندې په صادقانه او بشپړ اخلاص سره اداء کړو.

ورپسې نویو ټاکل شوو رئیسانو هم د موضوع په اړه خبرې وکړې او د پوهنې وزارت د رهبرۍ له باور څخه یې د منننې ترڅنګ، ډاډ ورکړ چې ورسپارل شوې دنده به په پوره صداقت او د پوهنې وزارت د محترم مشرتابه د لارښوونو او پرېکړو په رڼا کې عملي کړي.

غونډه د یاد وزارت د ولایتي چارو د سمون او همغږۍ د رئیس محترم الحاج مولوي پاینده‌محمد تعلیم له خوا د دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

# د پاکستاني ملېشو د وحشیانه بمباریو له امله د زده کوونکو د **شهادت** او **ټپي** کېدو په اړه د پوهنې وزارت اعلامیه

د پاکستان پوځي رژیم په داسې وحشیانه او غیر انساني کړنو لاس پورې کړې چې نه یوازې د اسلامي او بشري اصولو سرغړونه وه بلکې د افغانانو د ژوند، تعلیم او فرهنګ د بنسټونو پر وړاندې یوه ښکاره حمله وه.

په دې وحشیانه بریدونو کې د ننګرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې ۸ تنه زده کوونکې (پنځه هلکان او درې نجونې) شهیدان شول. همدارنګه د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ په مرغې کلي کې فاروقیه مدرسه په نښه شوه چې په پایله کې یو طالب العلم ټپي، تعلیمي مرکزونه ویجاړ او د قران کریم نسخې او نور دیني کتابونه وسوځېدل.

دا خونړۍ او غیر انساني کړنې ښکاره کوي چې د پاکستان پوځي رژیم دښمني یوازې د افغانانو د ژوند په وړاندې نه بلکې د هغوی پر زده کړو، تعلیمي مرکزونو او فرهنګي میراث هم ده.

د یادونې وړ ده چې د تېر کال تیري پر مهال هم په پکتیکا ولایت کې د کرکټ لوبغاړي، چې ځینې یې د ښوونځي زده کوونکي وو هم په شهادت رسولي وو.

# ننګرهار کې د څه باندې ۱۸ میلیونه افغانیو په لګښت د یو باب ښوونځي ودانۍ جوړه شوه




د ننګرهار ولایت، پچیر اګام ولسوالۍ اړوند د پاس صبر لېسې لپاره نوې دوه پوړیزه ودانۍ د ۱۸ میلیونه ۴۸۵ زره او ۶۰۴ افغانیو په لګښت جوړه او د یوې غونډې په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي یاده ودانۍ د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ په ۵ جریبه ځمکه کې جوړه شوې چې ۱۲ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې، د پاکو اوبو سیستم، د لمریزې برېښنا سیستم، احاطوي دېوال، مجهز آزمایښتون، کمپیوټرلب، د زده‌کوونکو لپاره مېزونه ـ څوکۍ او د لوبو میدان لري.

د یاد ولایت د پوهنې مسئولینو زیاته کړه چې دغه ودانۍ به د سلګونو زده‌کوونکو لپاره مناسب او معیاري درسي چاپېریال برابر کړي او هم یې د سیمې له اوسېدونکو وغوښتل چې د ښوونځي د ودانۍ ساتنې ته پاملرنه وکړي.

# سفر رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی به ولایت فاریاب



محترم الحاج مولوی اول گل ایوبی رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی وزارت معارف طی سفر به هدف بازدید و نظارت از صنوف تقویتی معارف وارد شهر میمنه مرکز ولایت فاریاب شده نامبرده در این سفر با رئیس و مسئولین ریاست معارف، اعضای علمی مدیریت عمومی ساینس و اعضای انکشاف مسلکی معلمان هسته مرکزی دیدار و در رابطه به موضوعات مختلف گفتگو نمود.

رئیس محترم نصاب و انکشاف مسلکی طی صحبتی مسئولین را به وظایف و مکلفیت های شان در قبال بهبود امور، رشد تعلیم و تربیه، ارتقای کیفی تدریس و بهبود وضعیت تعلیمی در مکاتب متوجه ساخته و از آنان خواست تا وظایف شان را با کمال صداقت انجام داده و در بهبود نظام تعلیمی از هیچگونه سعی و تلاش دریغ نه ورزند.

هم چنان؛ رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی وزارت معارف به طور نمونه از دو صنف تقویتی معارف شهر در لیسه افغانکوت و از صنوف تقویتی ولسوالی شیرین تگاب و لیسه شمس الدین شهید بازدید کرد.

هیئت روند تدریس و سویه تعلیمی شاگردان را در آن ولایت قناعت بخش ارزیابی کرده و همچنان از جریان ورکشاپ آموزشی معلمان در ولسوالی اندخوی نیز دیدار کرد.

# اعلام نتایج مسابقات علمی میان طلاب مدارس ولایت‌های ننگرهار و لغمان

به منظور بلند بردن توانمندی‌های علمی طلاب العلم مدارس ولایت های ننگرهار و لغمان مسابقات علمی «صرف و نحو» برگزار گردیده بود. این مسابقات که به ابتکار و برنامه‌ریزی ریاست مدارس و دارالحفاظ‌های معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف راه اندازی شده بود با حضور بیش از ۳۰۵ تن از طلاب دو ولایت مذکور برگزار شد. در مراسمی با شکوهی که به همین منظور برگزار گردیده بود، نتایج مسابقات اعلام و طلاب العلم ممتاز که در این مسابقات نمرات عالی بدست آورده بودند مورد تقدیر و تشویق قرار گرفتند. مسئولان ریاست معارف ولایت‌های ننگرهار و لغمان ضمن تشویق و تقدیر از طلاب برتر، جوایزی چون جلدهای قرآن عظیم‌الشأن و کمپیوتر به آنها اهداء نمودند.



محترم مولوی شاه جهان ساجد رئیس معارف ولایت ننگرهار، شیخ محمد سلیم حقانی رئیس شورای علمای ولایت لغمان و سایر مسئولان مربوطه در سخنان خود از تلاش‌های بی‌وقفه استادان و هیئت‌های نظارت بر روند مسابقات قدردانی نموده و بر اهمیت راه اندازی چنین رقابت در شکوفایی استعدادهای علمی طلاب و شاگردان تأکید کردند.

آنها همچنین بر تداوم این نوع مسابقات در دیگر ولایات کشور برای ارتقای سطح علمی طلاب و ایجاد فضای رقابتی سالم تأکید ورزیدند.

در پایان مراسم از طلاب ممتاز که در درجات اول تا پنجم قرار گرفته بودند با اهدای تحایف مورد تقدیر و تشویق قرار گرفتند.

**هموطنان عزیز!**

**با فرستادن اطفال به مدارس و مکاتب آینده روشن آنان را رقم بزنید چون حمایت خانواده کلید موفقیت فرزندان است.**